سلطان جان کلیوال

۲۰۱۸/۰۹/۲٦

# عشق او عقل

لکه په دین کی چی دی عقل ته کوم کار نشته
داسی د مینی کور ته هم د عقل لار نشته

که مسافر شو درنه زړه چیری د عشق نړی ته
شی به خبر چی دی نړی کی یو هوښیار نشته

ورته په لیکه کی ولاړ دی ډیربی شمیره زړونه
دی منتظر د مینی باغ ته د تلو وار نشته

خو که ورتلی پام چی د عقل سره نه به ورځی
هلته ګلزار د مینی جوړ دی پکی خار نشته

دعشق دنیا کی‌دي تر ټولو عاقلان بی وزلی
عاشقان واړه پاچاهان دي پکی خوار نشته

دی منل شوی په باور کیسی د سپینو حورو
کنه ! د عقل په دایره کی یی آثار نشته

عشق یاغي دی ماتوي تل انتظام د عقل
بی د محبوب له ګرمی غیرئي قرار نشته

د خوارعقل په ځای ورکړه ورته پاو دمینی
د کلیوال په سر کی ځای ددی خروار نشته

سپتمبر/۲۰۱۸

تورنتو ــ کانادا



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com